# د کورني ژوند (اناګو) ډرامې تحقيقي او تنقيدي څېړنه

## A Critical Analysis of Pashto Drama "KoranaiZwnd"(Anago)

ميرحسن خان اتل*

**Abstract:**

The drama "KoranaiZwand", also known as (Anago) is one of the most popular radio dramas, written by Abdul Qadoos Durani; a prominent Drama writer of Southern Pashtoonkhwa. This Drama has been published by Pashto Academy Quetta in two volumes. The author of this paper has carried out critical analysis of this drama and corrected some of the historical references also.

**Key words:** Pashto Drama, KoranaiZwnd,SouthernPashtoon Khwa, Fiction.

که څهٔ هم ريډيو پاکستان کوټې له کال ۱۹۵۸م څخه په پښتو ژبه کښې د خپرونو پيل کړی ؤ، خو په لومړي سر کښې ئې د پښتو لپاره يوائې پينځلس دقيقې وخت ځانګړی کړی ؤ، له کال ۱۹۷۰م وروسته د پښتو وخت زيات او د تبليغياتي نشرياتو په څنګ کښې د تفريحي او روزنيزو خپرونو د نشر کولو موقع هم ورکړل شوه، ځکه له نورو خپرونو سره سره پښتو ډرامې ته هم په ځانګړې توګه پاملرنه و شوه، په خصوص د دې ارزښتمنې ريډيائي اړتيا د بخت ستوری هغه وخت و ځلېدهٔ چي کله د اروابناد عبدالقدوس دراني په څېر يو فطرتي ډرامه ارټسټ او ډرامه ډايرېکټر ريډيو پاکستان کوټې ته په حېث د يوهٔ پروډيوسر راغلی، نوموړي ليکوال او ډرامه ارټسټ که څهٔ هم د براډکاسټنګ پر هره شعبه کښې د خپلو صلاحيتونه ستوري ځلولي دي خو د ډرامې په برخه کښې چي هغه کوم خدمتونه ترسره کړي دي لړ تر لړه د ريډيو پاکستان کوټې په تاريخ کښې ئې ساری نهٔ تر سترګو کېږي، ځکه چي هغهٔ په يوه ډېره لنډه موده کښې د پښتو ډرامه د عروج و هغهٔ داسې بام ته و خېژوله چي ډېر تکړه تکړه ډرامه ډايرېکټران او پروډيوسران ورته ګوته په غاښ پاته شول.

نوموړي ليکوال او ډرامه ډايرېکټر که څهٔ هم د خپل کېرئېر په اوږدو کښې يو لوی شمېر ډرامې لکه محمود غزنوي، منګی مات غوړي توئ او نورې ليکلې او پروډيوس کړې دي خو د هغهٔ نامتو سلسله وارې ډرامې (کورنی ژوند) چي په اولس کښې کوم شهرت او عزت وموندلی تر اوسه د بلې ريډيائي ډرامې نهٔ دی په نصيب شوی، په دې اړه د دې ډرامې يو اورېدونکی او نوموړی ليکوال ښاغلی عبدالله جان نورزی داسې وايي:

"د سهار په وخت به د کلي د ښا و خوا کورو ښځې او ماشومان به خاص د ريډيو اورېدلو لپاره زما د اکا کور ته راتلل د جمعې په ورځ به د ريډيو پاکستان کوټې څخه يوه ډېره خوندوره ډرامه د "کورنی ژوند" په نامه نشر کېدله د دغه ډرامې د اورېدولو د پاره به د

---

* M.Phil scholar, Department of Pashto, University of Balochista Quetta.

کلي ټولو ښځو او کوچنيانو هر کار پرېښوو او د ډرامې تر اورېدو به ئې نيم ساعت له مخه د دغې ډرامې د اورېدلو د پاره ځانونه راورسول، زموږ د دغه کلي نوم ديزکه چي د فراح په ولايت کښې واقع دی"(۱)

دا ډرامه (کورنی ژوند) چي يوه سلسه واره يا سوپ اوپيره (Soap Opera) لوبه وه، د کال ۱۹۷۶م د اګست د مياشتې پر لومړۍ نېټه ئې لومړی قسط خپور شوی او بيا په پرله پسې توګه شپږ کاله بلا ناغه نشر شوې او د اورېدونکو تر غوږونو پورې رسول شوې ده، د سوپ اوپيره ډرامې د تعريف په برخه کښې نامتو محقق او اديب ښاغلي رشيد احمد وايي:

" سوپ ډرامې هغو ډارمو ته وئيلی شي چي دلنډ وخت د پاره وي او په قسطونو يا سيرئيل کښې نشر شي، دا د سلو، دوه سوه سو يا زياتو او يا کمو قسطونو کېدای شي"(۲)

دا ډرامه به له کوټې استېشن څخه وخت او د اوونۍ په کومه ورځ نشر ته سپارل کېده په دې اړه د دې ډرامې ليکوال او ډايرېکټر ارواښاد عبدالقدوس دراني د خپل کتاب (اناګو) په لومړي ټوک کښې داسې ليکلي دي:

"د رېډيو پاکستان کوټې سلسله وار پښتو ډرامه د (کورني ژوند) په نامۀ هره جمعه سهار (اتۀ نيمې) بجې پر لومړي چينل مسلسل تر شپږو کلونو پورې وړاندې کېده، لومړې ډرامه په اګست کال نولس سوه شپږ اويا کښې نشر شوه"(۳)

ليکوال په خپل دې بيان کښې د ډرامې د نشر کېدو وخت د سهار اتۀ نيمې بجې ياد کړی دی خو د رېډيو پاکستان کوټې په ريکارډ (بکنګ رجسټر) کښې د دې ډرامې د نشر کېدو اصل وخت اته نيمې (۸:۳۰) بجې نۀ بلکې پاو کم اتۀ (۷:۴۵) بجې ليکل شوی دی، د دې ډرامې د هر قسط اوږدوالی (دورانيه) به پينځلس دقيقې ؤ، يعني د خپرونې په اوسترې پاو کښې به نشر ته سپارل کېده.

ښاغلی ليکوال په خپل لوړ بيان کښې دا خبره هم کړې ده چي د دې ډرامې لومړی قسط د کال ۱۹۷۶م د اګست پر لومړۍ نېټه خپور شوی دی، د دۀ دا خبره پر ځای او صحيح ده، ځکه چي د دې ډرامې د لومړيو اوو قسطونو لپاره د پېمنټ اجازه (Sanction) چي ټولې نهۀ سوه او پينځويشت کالداري (=\R@925) جوړېږي، د کال ۱۹۷۶م د اکتوبر د مياشتې پر درويشتمه (۲۳) نېټه ورکول شوې ده، د لومړيو اوو قسطونه لپاره ښاغلي عبدالقدوس دراني په حېث د دې ډرامې د پروډيوسر د هغه وخت له استېشن ډايرېکټر څخه داسې خواست کړی دی:

"Sanction may be kindly be accorded to book the following artists in special serial play let Koranai Zewand which is scheduled during women week".(۴)

**مرکزي کردارونه:**

دا ډرامه (کورنی ژوند) که څهٔ هم د یوهٔ اوږده واټن او کابو د درې سوو قسطونو یوه سلسله واره لړۍ وه خو د کردارونو شمېر ئې مختصر او فقط اتو، یا لسو هنرمندانو د خپل فن ځرګندونه پکښې کړې ده، هسې خو د دې ډرامې ټولو کردارونو په اولس کښې انتهائي زیات او بې ساری محبوبیت پیدا کړی ؤ خو دا لاندې څو کردارونه کوم چې د دې ډرامې مرکزي کردارونه هم وو په اوږدونکو کښې زښت زیات مشهور شوي او د خلګو له خوا ډېر ستایل کېده:

| "شمیر | کردار | د صداکار اصلي نوم | په ډرامه کښې عمر |
|---|---|---|---|
| ۱ | اناګو | اروابناده خیرا لنساء شینواري | ۷۰ کلنه |
| ۲ | ماما | اروابناد اکبر کاکړ | ۷۵ کلن |
| ۳ | درخو | سکینه ګل | ۳۵ کلنه |
| ۴ | شاغاسي | عبدالقدوس درانی | ۴۵ کلن"(۵) |

- **اناګو**

په دې سلسله واره ډرامه (کورنی ژوند) کښې د اناګو کردار دومره اغېزمن او د اروېدونکو خوښ ؤ چې وروسته دا ډرامه د "اناګو" په نامهٔ ونومول شوه، او تر نن ورځې ئې خلګ د اناګو ډارمه بولي.

په دې ډرامه کښې اناګو اویا کلنه سپین سرې ښځې وي، په غوږونو درنه او سم نهٔ اوري ، دا کردار په اصل کښې د دې ډرامې مرکزي کردار هم ګڼل کېدهٔ، د اناګو کردار به خاله خیرالنساء شینوارۍ چې د رېډیو پاکستان کوټې لومړۍ ښځینه هنرمنده هم ده، ترسره کاوهٔ، د دې کردار دوه اړخونه ډېر خوندور او له مزاح څخه ډک وو، یو خو (اناګو) په غوږونو درنه وي، خبره کونکی یا متکلم به مجبور ؤ چې یوه خبره به ئې دوه یا درې واره ورته کوله، مثلاً په یوه ډرامه "سترګې دې که پټاټې" کښې د شاغاسي او اناګو ترمنځ په یوه مکالمه کښې هغه سم نهٔ اوري ځکه د یوهٔ شي نوم په بل او د بل شي په بل بدلوي:

"شاغاسي :- د خسمانه نهٔ، وام خورکۍ خو د اسمان نه ده راکشته شوې، چې ماشومان یې صفا دي کور ته چې ورشې نو د سړي روح پکښې تازه شي آ زما د خوارکۍ کور نو لکه د کباړي دوکان.

اناګو:- د کوم کبابي دوکان! دا نن ته څهٔ وایې؟

شاغاسي:- توبه مي ده کبابي دوکان نهٔ، وام اناګو! زما کور لکه د کباړي دوکان چیري ئې زاړهٔ ټیمان پراتهٔ وي چیري ئې زاړهٔ ګودړان پراتهٔ وي.

اناګو:- بانجړان؟ زویه! بانجړ، نو بریاني تا زما د لاس نهٔ ده خوړلې.

شاغاسي:- ها بس دی، بیا د بانجړانو افسانه شروع شوه"

(اناګو ډرامه لومړی یا دوهم چاپ) مخ ۲۹

د اناګو د کردار دوهمه برخه چې ډېره مشهوره وه هغه دا ده چې پر خبره خبره به ئې د نیکهٔ مسکین نوم یاداوهٔ، نیکهٔ مسکین دا وکړل او نیکهٔ مکسین ها وکړل، د هم دې ډرامې په یوه بله مکالمه کښې ئې له شاغاسي سره په خبرو کښې د نیکهٔ مسکین ذکر څو وار راوړی دی:

"اناګو:- نیکهٔ مسکین دې خدای وبخښې په بریاني بانجڼ به ئې کورت او غوړې واچول نو بیا به ئې د سپتي سره خوړل.

شاغاسي:- نیکهٔ مسکین به دومره په نس نهٔ ؤ مین لکه تا چې وینم.

اناګو:- یا زویه! که به دورغ درته وایم نو مخ مې دې څټ شي نیکهٔ مسکین د خوراک ډېر شوقي ؤ"(۶)

- **د ماما یا ماماګي کردار**

د دې ډرامې بل اهم او مشهور کردار د (ماما یا ماماګی) ؤ، ماما پینځه اویا کلن سپین ږیری سړی وي او په هر څهٔ یې کار وي، د ماما کردار هم په اولس کښې ډېر زیات محبوبیت موندلی ؤ، د ماما یا ماماګي کردار به نامتو ډرامه ارټسټ او د رېډیو پاکستان کوټې تکړه براډکاسټر اکبر کاکړ ترسره کاوهٔ.

د دې کردار هم دوې خبرې یا ویلی شو دوه تکیه کلامهٔ ډېر خوندور او د اورېدونکو زښت ډېر خوښ وو، یو دا (که دا نخښنه رښتیا ده) او بل بیا دا(زهٔ د پخوا زمانې سړی یم)، دلته دیوې داسې مکالمې بېلګه را اخلو چې ماما دا دواړه خبرې پکښې یادې کړې دي:

"ماما:- ګوره شاغاسي! که دا نخښنه رښتیا ده، زهٔ د پخوا زمانې سړی یم څومره چې په یوه کور کښې سړی د خبرې حق لري هغومره حق ښځه هم لري، پوه شوې" مخ ۲۸

- **شاغاسي**

د دې ډرامې درېیم اهم او مرکزی کردار د شاغاسي وي، شاغاسي پینځه څلوېښت کلن سړی وي او د ډرامې له نورو کردارونو لکه ماما، اناګو او خپلې کوروالې درخو سره ئې د بحث ماحول هر وخت تود ساتلی وي، د دې کردار تر ټولو لوی کمال دا وي چې د دې سېریل هره موضوع هم د ده په مرسته منځ ته راوړل کیږي او وروسته کلایمکس ته هم د دهٔ په مرسته رسېږي، د شاغاسي کردار د ډرامې لیکوال او ډایرېکټر عبدالقدوس پخپله تر سره کاوهٔ.

- **درخو**

درخو د شاغاسي کورودانه او عمر ئې **۳۵** کاله وي، چونکې درخو د ماما خورځه وي ځکه د دې او ماما ترمنځ هر وخت د مرستې او کومک خبرې روانې وي، دوی تل د یوۀ او بل سواړه او حمایت کوي، شاغاسي چي کله هم پر درخو کوم اعتراض کوي،نو د دې ډرامې د یوۀ بل کردار (خورکۍ) مثال ورکوي چي خورکۍ دا تورۀ و وهله او خورکۍ ها تورۀ و وهله، خو درخو هم د ځان په دفاع کولو کښې ښه غښتلې وي، د هر اعتراض ځواب ښه په نره وایي، زما په خیال د ډرامې ښاغلي لیکوال به غوښتل هم دا چي د دې کردار له لارې په ښځو کښې د جرات ماده راژوندۍ او دوی په خپلو ټولنیزو حقونو خبرې کړي، د درخو کردار به نامتو ښځینه ارټسټې اغلې سکینه ګل ترسره کولی.

مرستیال کردارونه

د دود له مخې په هره ډرامه کښې له مرکزي کردارونو سره په څنګ کښې څو مرستیال یا واړه کردارونه هم مزل کوي، د بلې هرې ډرامې په څېر په دې ډرامه کښې هم د مرکزي کردارونو سره سره یو شمېر مرستیال یا واړۀ کردارونه هم متحرک او فعال پاته شوي دي، د دې ډرامې د مرستیالو کردارونو د ډارمیټکواو اصلي نومونو لنډیز داسې دی:

| "شمیر | کردار | د صداکار اصلي نوم | په ډرامه کښې عمر |
|---|---|---|---|
| ۱ | لاجور | | |
| ۲ | خورکۍ | رضیه ګل | ۳۵کلنه |
| ۳ | ورېنداره | صفیه ګل | ۳۰ کلنه |
| ۴ | شامک | سردار محمد | ۱۲ کلن |
| ۵ | ګل اغا | فېروز خان مندوخېل | ۵۰ کلن |
| ۶ | کاکو | محمد نواز بارکزی | ۵۰ کلن"(۷) |

له یاد شوو مرکزي او مرستیال کردارونو علاوه په دې ډرامه کښې یو څو داسې کردارونه نور هم وو چي وخت په وخت او د اړتیا مطابق به کار ځنې اخیستل کېدۀ، چونکې د دې کردارونو حېثیت یو مخ مائینر او بېه به ئې ډېره لنډه وه ځکه ئې ډېر تفصیل نۀ دی نوشته شوی، البته عبدالقدوس دراني د خپل کتاب (اناګو) په لومړي ټوک کښې د دې لنډو او مائینر کردارونو یادونه داسې کړې ده:

"په مرستیالو کردارونو کښې عبدالله جان غزنوی، سفیه زېب، سردار محمد درانی، جمیله خان، احمد جان ګران، رضیه ګل، سلمیٰ ګل، سلیمه جبین، زبېده ګل، فاروق سرور، اسماعیل شاه، فېروز خان مندوخېل او دغه ډول فنکاران شامل وو"(۸)

لنډه دا چي د دې ډرامې ټول کردارونه هغه که مرکزي وواو که مرستیال ډېر فعاله او خپل کار په پوره ؤ، او د اورېدونکو له خوا به هم ځکه خوښېدل چي د هغو د روزمره ژوند عکاسي به ئې

کوله، نامتو لیکوال او محقق ډاکټر عبدالروف رفیقي په خپله یوه لیکنه کښې د دې ډرامې د کردارونو په اړه د خپلو احساساتو څرګندونه داسې کړې ده:

"د کورنی ژوند په دغه ډرامګۍ کښې د ماماګي او اناګو کردارونو د دې ډرامې خوند دومره ور زیات کړی وو چي هر چا به دغه ډرامه ارومرو اورېده، د ظنز او مزاح داسې خوندور شاهکار ؤ چي اولس ته به ئې د اولس په ژبه خبرې کولې، د اناګو ډرامې کردارونه د هر کور کردارونه وو، په هر کور کښې هم درخو وه هم ماماګۍ، هم اناګو وه، هم شاغاسي هم ګل اغا ؤ هم خورکۍ"(۹)

**د کورنی ژوند (اناګو) ډرامې مطبوعه یا چاپي بڼه:**

د دې ډرامې له نورو ډېرو ځانګړتیاوو سره سره یوه لویه او بنیادي ځانګړتیا دا هم ده چي د دې تاریخي او مشهورې ډرامې ټول سکرپټ په دوه ټوکه کتاب کښې چاپ شوی او د تل لپاره خوندي کړل شوی، دا د سوهېلي پښتونخوا لومړۍ او یواځنۍ ډرامه ده چي په کتابي بڼه کښې چاپ شوې ده، د دې ډرامې لومړی ټوک د ډرامې لیکوال او ډایرېکټر عبدالقدوس دراني په خپل جېب او خپل همت چاپ کړی دی، البته دویم ټوک ئې د پښتو اکېډمۍ کوټې له خوا هغه وخت چاپ شوی دی چي کله د کتاب کمپوزنګ بشپړ شو او تصحیح یې هم زیاته عبد القدوس دراني په خپله کړې وه خو ځنې برخه یې پاته وه چې په دا مینځ کښې عبد القدوس دراني له دنیا سترګې پټې کړې او پاته برخه یې کوروداني (صدیقه خان ملالۍ) کتلې او تصحیح کړې وه، خو د پښتو اکېډمۍ په غوښتنه یې د دوېم چاپ پېټې پښتو اکېډمۍ په غاړه واخیست.

پکار خو دا ؤ چي د رېډیو پاکستان کوټې له خوا د دې اهمې او تاریخي ډرامې ټول سکرپټ او ریکارډنګ خوندي ساتلی شوی وای، ځکه چي د دا ډول تاریخي او شاهکارو ادبي اوهنري اثارو خوندي ساتل نهٔ یواځې د هغې اداري لپاره د ویاړ سوب ګرځي بلکې د یوهٔ قام د ژبې او ادب د ترقۍ لپاره هم د یوهٔ تاریخي دستاوېز حیثیت لري، خو له بده مرغه د رېډیو پاکستان کوټې د استېشن له مشرانو او ذمه وارانو څخه د ریکارډ او ریکارډنګ د ساتلو په برخه زښته زیاته بې غوري بلکې کوتاهي شوې ده، دوی هیڅکله هم په شعوري توګه دا کوشش نهٔ دی کړی چي خپل تاریخي اثار او شاهکارې فن پارې خوندي او د راروانو نسلونو لپاره د تاریخ برخه وګرځوي، هم دا وجه ده چي نن هلته پرتې ټولې المارۍ له هر څهٔ خالي او تشې د شخصي اغراضو لپاره کارول کېږي، کوم ته چي موږ له خپل تاریخ سره لوبه او یوه تاریخي المیه ویلی شو.

**د ډرامې لومړی ټوک:**

د دې مطبوعه او چاپېزې ډرامې لومړی ټوک په کال **۲۰۱۳**م کښې د ليکوال په خپل همت د غزنوي خپرندويې ادارې (سوپس پلازه جناح روډ) له خوا په مجلده بڼه چاپ شوی دی، کاغذ ئې سپين خو وضع ئې ډېره نااموزه او غيرمعياري بڼه لري، د کمپوز چارې ئې د حافظ رحمت نيازي په لاس ترسره شوې دي، د پوښتې (ټائټل) انځور ئې ښۀ زړۀ راکښونکې او د خاله خيرالنساء شينواري (اناګو) په يوه بارعبه عکس باندې مزين کړل شوی دی، دا ټوک ټول دوه سوه اووۀ پينځوست (**۲۵۷**) مخونه لري او د چاپ شمېر ئې پينځه سوه دی، پر وروستيو دوو مخونو ئې د ليکوال لنډه پېژندګلوي او د چاپ او ناچاپو اثارو (تصانيفو) تفصيل ور کړل شوی دی، پر بېک ټائټل ليکوال خپل عکس ورکړی دی.

د دې ټوک سريزه نامتو براډکاسټر او د رېډيو پاکستان کوټې موجوده اسټېشن ډايرېکټر ښاغلي سهېل خټک ليکلې ده، هغه په خپلو خبرو کښې يو ځای د دې ډرامې په اړه داسې وايي:

"د طنز او مزاح نه ډکه دا ځولۍ ښاغلي عبدالقدوس دراني د خپلو اورېدونکو دپاره تر شپږو کالو پورې خوروله، اورېدونکو ته د يوۀ پېغام رسولو سره د هغوئ په مخونو د خنداګانو سپرلي راوستل خورا زيات ګران کار دی خو قدرمن عبدالقدوس دراني د خپل تخليقي سوچه عمل له سوبه دا ګران کار په ډېر ښۀ ډول ترسره کړو، ځکه خو ئې د ډرامې ليکوال او پروډيوسر په حېث تر ننه نوم ژوندی دی او وي به"(۱۰)

له سريزې وروسته د اروابناد عبدالقدوس دراني يوه نيزدې ملګري عبدالله جان نورزي د دې ډرامې د يوه اورېدونکي په حيث هم په حيث د خپلو احساساتو ځرګندونه کړې ده، د کتاب ليکوال اروابناد عبدالقدوس دراني هم د (ځو خبري) په نوم يو معلوماتي مضمون ليکلی دی، په دې معلوماتي مضمون کښې هغه نه يواځې د دې درامې په اړه ډېر بنيادي معلومات د قلمبند کړي دي بلکې د رېډيو پاکستان کوټې او پښتو ډرامې په هکله ئې هم د اړتيا وړ معلومات له لوستونکو سره شريک کړي دي.په لومړي ټوک کښې د دې لاندې نوولسو ډرامو مسودې راغونډې کړل شوې او چاپ شوې دي:

| شمېر | د ډرامې نوم | شمېر | د ډرامې نوم |
| --- | --- | --- | --- |
| ۱ | سترګې دي که پتاتې | ۱۱ | د چايو پتنوس |
| ۲ | انارګله | ۱۲ | د اناګو پېنه |
| ۳ | وزګړی | ۱۳ | غالبوزه |
| ۴ | ده ته غله ښکارو | ۱۴ | يوئ ماما |
| ۵ | ګل اغا | ۱۵ | د غوړو علاج |
| ۶ | کوړکه جرګه | ۱۶ | الف انار |
| ۷ | دروند کور | ۱۷ | صلاح |

| | | | |
|---|---|---|---|
| ۸ | غوماشي | ۱۸ | د بانس لرګی |
| ۹ | ناټک | ۱۹ | د اناګو ورکه شي |
| ۱۰ | د نلکې چوښکه | | |

**دویم ټوک**:

د دې سلسله وارې لړۍ دویمه مطبوعه برخه چې ټولې څلرویشت (۲۴) عنوانه قسطونه پکښې راغونډې کړل شوې دي، د لیکوال له مرګه وروسته په کال ۲۰۱۶م کښې د پښتو اکېډمۍ کوټې له خوا چاپ شوی دی، د دې ټوک سریزه د پښتو اکېډمۍ صدر ښاغلي خیرمحمد عارف صاحب لیکلې ده، ډاکټر عبدالروف رفیقي صاحب هم په حېث د پښتو اکېډمۍ د جنرل سیکرټري یو معلوماتي مضمون وربانديې لیکلی دی.

د دې کتاب ښه مجلده، کاغذ ئې معیاري او د مخونو شمېر ئې (درې سوه څلرویشت) دی، د کمپوز چارې ئې د حافظ رحمت نیازي په لاسونو تر سره شوې دي، اروابښاد عبدالقدوس دراني خپل دا اثر هم خپل زوی ډاکټر محمد اسحاق دراني ته ډالۍ کړی دی.

په دویم ټوک کښې د دې سلسه وار سریل څلرویشت (۲۴) قسطونه چاپ شوي دي چې د نومونو تفصیل ئې داسې دی:

| "شمېر | د ډرامې نوم | شمېر | د ډرامې نوم |
|---|---|---|---|
| ۱ | بازار | ۱۳ | اخور |
| ۲ | بې هوشي | ۱۴ | کپیدلي لاسونه |
| ۳ | غل | ۱۵ | ټکټکو |
| ۴ | زمری | ۱۶ | سائی‌کله وفاداره! |
| ۵ | هسپتال | ۱۷ | موچښه |
| ۶ | ستن | ۱۸ | ګوټ |
| ۷ | مرغومی | ۱۹ | د ښځو قدر |
| ۸ | کور که سور اور؟ | ۲۰ | ج ــ جوتي، ح ـــ حقه |
| ۹ | ساه داران | ۲۱ | موشوانی |
| ۱۰ | د چلم نی | ۲۲ | نکان جنګول |
| ۱۱ | د وړو ګونۍ | ۲۳ | کباب |
| ۱۲ | د اونګ دسته | ۲۴ | پخلا" |

له دې علاوه د دې ډرامې (اناګو) اته قسطونه په اولس مجله کښې هم چاپ شوي دي، نور قسطونه يې نه دي چاپ شوي، څله نه دی چاپ شوي؟ د دې پوښتنې کوم کره ځواب نه موندل شو البته د دې چاپ شوو اتو قسطونو ذکر حافظ رحمت نيازي پخپله ناچاپه (پي ايچ ډي) مقاله کښې داسې ذکر کړی دی:

"لکه عبدالقدوس دراني چې اناګو ډارمې اته قسطونه د اناګو تر سرليک لاندې د اولس مجلې د پانو زينت ګرځولی دی، ښه به دا وای چې د اولس مجلې ادارې د اناګو ډرامې ټول قسطونه په کتابي شکل چاپ کړی وای"(۱۱)

د کورنی ژوند (اناګو) سلسله واره ډرامه په بنيادي توګه یوکامېډي سريل ؤ، د دې ډرامې هر کردار به د وس تر بريده دا کوشش کولی چې خپل ټول کړه، وړه او ورکړل شوې مکالمه د مزاح په سينګار مزئين او خلګو د خوښې و ګرځوي، د شته شواهدو له رويه دوی په خپل دې مرام کښې تر ډېره بريده بريالي شوي هم وو.

خو له بلې خوا د دې خبرې دا معنا بالکل نۀ ده چې دا ډرامه يواځې په دې خاطر ليکل کېده يا نشر کېده چې تش د اورېدونکو د خندا يا ساعت تېري لپاره لږ ډېر اسواب مساعد کړل شي، بلکې د دې ډرامې د هرې کيسې بلکې د هرې مکالمې شاته يوه ډېرسنجيده او له پنده ډک شاليد شتون لرۀ، ليکوال او د ډرامې هنرمندانو به هڅه کوله چې د مزاحيه مکالمو له لارې په خپل معروض کښې د پرتو هغو ټولو ستونځو له مخه پلو پورته کړي چې په عام حالت کښې ئې موږ په باک کښې نۀ راولو.

لکه څنګه چې د دې سلسه وار سېريل نوم (کورنی ژوند) دی هم داسې موضوعات به ئې هم د ورځني ژوند له ستونځو او مسائلو څخه اخيستل کېده، د دې سېريل په هره کيسه کښې ليکوال په دې تکل ښکاري چې څنګه و کولی شي چې هغه ټولې ستونځې د بحث موضوع وګرځوي چې تعلق ئې زموږ د سهار او ماښام له ژوند سره وي، او په څنګ کښې يې دا کوشش هم کړی دی چې ډېر په غير محسوسانه انداز هغه امکانات هم راوسپړي چې په مرسته ئې دا ستونځه هوارېدلی شي.

مثلاً د دې لړۍ په يوه ډرامه (انارګله) کښې ښاغلي ليکوال د بېلابېلو مزاحيه کردارونو په مرسته د اورېدونکو پام و دې خبرې ته د اړولو کوشش کړی دی چې د ښځو وهل يا ترټل ډېر بې ډوله او ناروا کار دی، که هر څوک هم دا کار کوي نو هغه ناپوه او د ښځو له حقوقو څخه ناخبر دی، ورسره ئې د ټولنې هغه وګړي هم غندلي دي کوم چې ټوله ورځ د سپيانو، کرکانو يا چرګانو په ساتلو يا جنګولو بوخت وي خپل اهل او عيال او کور ته وخت نۀ ورکوي.

ددې سېریل په یوه بله ډرامه (دۀ ته غلۀ ښکارو) کښې لیکوال بیا ددې پېغام د ورکولو هڅه کړې ده چې ښځه له موږ سره د ژوند په ټولو معاملاتو کښې برابره برخه لري، ځکه موږ ته پکار دي چې موږ هغه د ژوند په هر ډول چارو کښې له ځان سره شریکه او راګډه کړو.

داسې په (ګل اغا) نومي ډرامګۍ کښې بیا د یوې بلې ټولنیزې ستونځې (ملاوټ) په اړه بحث شوی دی، او د اورېدونکو پام ئې و دې خبرې ته راجلبولو کوشش کړی دی چې (ملاوټ) کول ډېر ناوړه او ناروا عمل دی، موږ باید په هر صورت له دې ناوړه عمل څخه ځانونه وژغورو.

داسې په یوه بله ډرامګۍ (کوړکه جرګه) کښې لیکوال ډېر په هنر او کمال د ډاکټرانو د ناروا فیسونو په اړه خبرې کړې دي، هغه په مزاحیه انداز ډاکټرانو ته د دې خبرې یادونه کړې ده چې ستاسو رول په یوه ټولنه کښې د یوۀ مسیحا په حېث ارزول کیږي، خو له بده مرغه تاسو خپل مقام نۀ پېژنۍ ځکه ټوله ورځ په دې فکر اخته یاست چې څنګه و کولی شئ چې له بې وزلو او بې وسو انسانانو څخه د فیسونو په نوم ناجایزې روپۍ ټولې کړئ.

په (درونډ کور) نومي قسط کښې د کور د صفائي پر موضوع ډېر په ښایسته انداز خبرې شوې دي، لیکوال وائي چې هر هغه کور به درونډ وي چې و ګړي ئې د صفائي خیال نۀ ساتي، په هغه کور کښې به ارومرو ناروغیانې او نورې ستونځې راپیدا کیږي چې سمه صفائي ئې نۀ کیږي.

په څنګ کښې ئې و دې خبرې ته یې هم اشاره کړې ده چې موږ باید په کورونو کښې سیګرېټ او چلم نۀ و څکوو، ځکه چې دا هر څۀ زموږ د ماشومانو پر روغتیا او اروائي وضع بدې اغېزې غورځوي، موږ ته پکار دي چې له داسې کولو څخه ډډه وکړو.

په یوه بله ډرامګۍ (غوماشي) کښې لیکوال بیا د غوماشو د خوړولو یا چیچلو پر تاوانونو د بحث کولو کوشش کړی دی، او اورېدونکو ئې دې خبرې ته راپاملي دي چې نه یوائې خپل ځانونه له غوماشو څخه خوندي و ساتي بلکې د کور نور وګړي هم د غوماشو له خوړولو یا چیچلو څخه و ژغوري، او هر هغه اسواب په کار راولي چې د غوماشو مخه نیولی شي.

لنډه دا چې نوموړي لیکوال د دې لړۍ په هره ډرامه کښې ډېر په سنجیدګۍ او هنر د ټولنیزو ستونځو و لور ته د اورېدونکو د پام رااړولو کوشش کړی دی، او په څنګ کښې ئې د هغو امکاناتو د راسپړلو هڅه هم کړې ده چې په مرسته ئې دا ټولنیزې ستونځې هوارېدلی یا لږ تر لږه لېږېدلی شي.

## تیکنکي جایزه

- **ژبه:** که څۀ هم د یوه تخلیقي اثر د تخلیق کولو او لیکلو پر مهال دیوه لیکوال لپاره تر هر څۀ دا کار ګران او نفس ختونکی دی چې هغه یوه داسې ژبه و کاروي چې د ټولنې ټول وګړي نۀ یوائې د دۀ په خبره پوهه شي بلکې هغه تر پایه و خپل لیک ته پامته داره و ساتي، په ډرامه کښې هم د ډرامې ژبه تر بل هر څۀ ډېره اهم او اړینه ګڼل کیږي، خو د دې ډرامې ښاغلي

لیکوال او پروډیوسر عبدالقدوس دراني هغه د تکړه لیکوال او تجربه کاره ډرامه ډایرېکټر ؤ چي د خپلې ټولنې په هر کړۀ وړۀ ښۀ پوهېدۀ، هغۀ پخپله هم هغه ژبه ویله او کاروله په کومه چي د ټولنې ټول وګړي پوهېده، هم دا وجه وه چي د دې ډرامې ژبه تر پایه ساده، روانه او اولس فهمه پاته شوې ده، جملې ئې لنډې او عین د رېډیائي ډرامې مطابق تخلیق شوې دي.

د دې تخلیقي او ادبي اثر هره مکالمه بلکې هره جمله د دې خبرې ګواهي ورکوي چي د دې ډرامې نوموړي لیکوال خپل ټول استعدادونه په دې خاطر پر کار اچولي وو چي څنګه وکولی شي چي په خپل دې تخلیق کښې هغه ژبه وکاروي په کومه چي د ټولنې هره طبقه، د هر جنس او د هر عمر وګړي په اساني سره پوه شي. د دې ډرامې کامیابي او په اولس کښې محبوبیت د دې خبرې ګواهي ورکوي چي داتخلیقي اثر په ساده، روانه او عامه فهمه ژبه کښې لیکل شوی او تخلیق شوی دی.

له دې علاوه که د دې ډرامې نورو تیکنیکي او هنري څانګړتیاوو ته پام کړو نو ویلی شو چي دا ډارمه د یوې معیاري ډرامې ټولې تیکنیکي او هنري غوښتنې پوره کوي، چونکې دا ډرامه د الیکټرانک میډیا او رېډیائي تیکنیک په شالید کښې لیکل شوې ده ځکه ئې په هم هنري څانګړتیاوو ته هم په دغه شالید کښې کتل پکار دي، ډرامه که د سټېج وي، که د ټیلي وژن او که بیا د رېډیو تلوسه (Suspense ) د هغې بنیادي توکی ګڼل کېږي، دا ډول کردار نګاري، کرداري ژبه او د کردارونو نفسیاتي حالت هم د ډرامې په بنیادي غوښتنو کښې راځي، او په دې ډارمه کښې دا ټول شیان پر خپل خپل ځای موجود دي، له دې سره سره په یوه رېډیائي ډرامه کښې د بېلابېلو کفیتونو، حالتونو او ډول ډول تاثر د جوړولو لپاره یوائنۍ وسیله رږغ دی، په داسې حالت د ډرامې لیکوال ته د لازیاتو هنري څرګندونو، ریاضیت او تجربې ته اړتیا پېښېږي ځکه چي هغه مجبور دی یوائې د رږغ په وسیله د خپلو کردارونو نفسیاتي محرکات او رجحانات څرګند کړي، د خپلو کردارونو د عمرونو او مزاج توپیر هم له دې لارې کوي، او په څنګ کښې دا کوشش هم کوي چي د ډرامې و مرکزي خیال، تلوسه، پېغام او تهیم ته کوم نقصان نۀ و رسېږي، د کورني ژوند (اناګو) په کتابی بڼه چاپېدل او بیا د دې ډرامې له مطالعې وروسته موږ په لوی زړۀ دا دعوی کولی شوی چي هغه ټولې هنري څانګړتیاوې او تېکنیکونه چي یوه معیاري رېډیائي ډرامه ئې لري هغه په دې ډرامه کښې تر سترګو کېږي.

**پایله**:

د کورنی ژوند (اناګو) ډرامې له هر اخیز جاج اخیستلو وروسته سړی په اسانه توګه په دې نتیجه رسېږي چي داهغه شاهکاره رېډیائي ډرامه وه چي نۀ یوائې له تیکنیکي پلوه په هر تول پوره وه بلکې په سوهېلي پښتونخوا کښې ئې د رېډیائي ډرامو لپاره د یوه مضبوط او سنجیده بنیاد کار هم ترسره کړی دی، ځکه چي تر دې ډرامه وړاندې دلته په فقط یو څو رېډیائي ډرامې جوړې کړل شوې او نشر

شوې وې، او هغه هم د ډېرې لنډې دورانېې، په بله معنا د رېډيائي ډرامو فن بالکل نوی او هسې ئې و خاپوړو ته لاسونه سم کړي وو، خو بيا هم د دې ډرامې ښاغلی ليکوال او ډايرېکټر (ارواښاد عبدالقدوس دراني) او د دهٔ نور ملګري او ملګرې لکه خاله خير النساء، اکبر کاکړ، سکينه ګل، رضيه ګل، سردار محمد، فېروز خان مندوخېل، نواز بارکزی او نور په دې کښې کامياب شول چې خپلو اورېدونکو ته يوه شاهکار او لوړ معيار ډارمه وړاندې کړي.

دا سلسله واره لړۍ پوره شپږ کاله په پرله پسې توګه د هرې جمعې په ورځ سهار (پاو کم اته) بجې نشر شوې ده، د قسطونو دروانيه به ئې پينځلس دقيقې وه، له دې حساب څخه د دې ډرامې د ټولو قسطونو شمېر له درې سوه څخه بيا تر درې سوه لس پورې جوړېږي او په ساعتونو کښې ئې وخت اووهٔ اويا نيمې (۳۰:۷۷) ګينټې جوړېږي، په محدودو وسائيلو کښې د دومره اوږد واټن نشرياتي پروجېکټ چلول ډېره د وياړ او لوړې حوصلې خبره ده.

بله خبره دا ده چې دا رېډيائي ډارمه هغه وخت د هوا څپو ته سپارل کېده چې له خلګو سره د ساعت تېرې او خبرو اورېدولو لپاره يواځنۍ وسيله تش ټرانسيسټر يا رېډيو سيټ ؤ، او هغه به هم په لسو شلو کورنو کښې په يوه يا دوو کورونو کښې چا لرلی، څکه خلګ به مجبور وو چې کوم داسې کور ته ورشي چې ټرانسيسټر يا رېډيو سيټ و لري، د ټيليوژني خپرونو ابتداء خو شوې وه خو بېخې تازه شپې ئې وې، فقط يو فصيد خلګو ته ئې هم د خپرونو د کتلو موقع نهٔ وه مساعده، دويمه دا وه چې د اورېدلو لپاره د نشرياتي مرکزونو (Radio Stations) شمېر هم ډېر لږ ؤ او دلته يواځې درې رېډيو استېشنونه (پېښور، کابل ، کوټه) داسې وو چې نشريات به ئې صفاتو اورېدل کېدل، په داسې وضع کښې چې د اورېدولو نورې وسيلې محدودې خلګ يواځې يوه وسيله کاروي نو د يوې ډرامې مشهورېدل يا په خلګو کښې د محبوبيت پيدا کولو خبره بايد دومره غټه کارنامه نهٔ وګڼل شي خو د دې ډرامې د کاميابۍ او خوښونې اندازه موږ له دې خبرې څخه لګولی شو چې په دې وخت کښې تر دې له لويو استېشنونو (پېښور او کابل) څخه هم دا ډول ډرامې او نورې تفريحي او روڼيزې خپرونې خپرېدې، هلته د پښتو خپرونو لپاره وخت هم زيات وو، خو بيا هم د دې ډرامې د اورېدونکو شمېر تر بلې هرې ډرامې او خپرونې ډېر وو، هر ورځ به له افغانستان، پښتونخوا ، ايران، اومان، مسقط او نورو عربو هېوادونو څخه د فېډ بېک په بڼه يو لوی شمېر ستائنليکونه ورته راتلهٔ، زما د دې کار په دوران کښې به زهٔ هغه وخت بېخې حيرانۍ واخيستم چې زموږ د سيمې د زياترو مشرانو نهٔ يواځې د دې څلوېښت کلنې زړې ډرامې نوم په ياد وو بلکې د دې ډرامې د ټولو کردارونو په خصوصي ډول د اناګو او د ماماګي په اړه به ئې کيسې راته پيل کړې.

## حوالې

(۱) درانی، عبدالقدوس، اناګو، ټوک لومړی ، پبلشر غزنوي خپروندویه اداره حناح روډ کوټه، کال ۲۰۱۳م، مخ ۱۲

(۲) احمد ، رشید ، ښښتو ډرامه، عامر پرنت اینډ پبلشرز پېښبو ، کال ۲۰۱۶م، مخ ۱۲۰

(۳) هم دغه، مخ ۱۹

(۴) بکنګ رجسټر، رېډیو پاکستان کوټه ارشف، کال ۱۹۷۶م.

(۵) درانی، عبدالقدوس، اناګو، ټوک لومړی، پبلشر ، چاپ کال ۲۰۱۳م، مخ ۲۵.

(۶) هم دغه، مخ ۲۹

(۷) هم دغه مخ

(۸) هم دغه مخ ۱۴

(۹) درانی، عبدالقدوس، اناګو، دویم ټوک ، خپروندویه ټولنه پښتو اکېډمی کوټه، کال ۲۰۱۶م، مخ ۱۵

(۱۰) درانی، عبدالقدوس، اناګو، ټوک لومړی، پبلشر ، چاپ کال ۲۰۱۳م، مخ ۱۱

(۱۱) نیازی، حافظ رحمت، د پښتو ژبې او ادب پر مختګ کښې د اولس مجلې کردار، پي ایچ ډي ناچاپه مقاله،پښتو څانګه بلوچستان پوهنتون کوټه، ۲۰۱۸م، مخ ۱۹۰